بسم الله الرحمن الرحیم

# د امریکا سیاسي قطبي کېدل

په داسې حال کې چې د کپیټل هېل پاڅونونو(پر کانګرس ماڼۍ د جمهوریت غوښتونکو برید) په دویمه کلیزه کې د استازو مجلس د رییس ټاکلو پر سر له ډېرو پړاونو تېر شو؛ پر کانګرس ماڼۍ د برید څېړلو لپاره ټاکل شوې ځانګړې کمېټې خپله پرېکړه واوروله.

کمېټه دې پایلې ته ورسېده چې د ۲۰۲۱م کال د جنوري په ٦مه، په ولسمشریزو ټاکنو کې د ولسمشر ډونالډ ټرمپ تر ماتې وروسته، د هغه یوې ډلې پلویانو په واشنګټن ډي سي کې پر کانګرس ماڼۍ برید وکړ. پاڅونوالو پر واک د ټرمپ د پاتې کېدو لپاره هڅه کوله د کانګرس د هغې ګډې ناستې مخه ونیسي چې د امریکا انتخاباتي کالج رایې یې شمېرلې؛ له دې سره د ولسمشر بایډن بریا رسمي اعلانېده. تر ۲۰۰۰ زیات پاڅون کوونکي او یاغیان ماڼۍ ته ننوتل؛ هلته یې ویجاړۍ او لوټ وکړ. پاڅونوالو د کانګرس پر پولیسو برید وکړ او د استازو ځای پیدا کولو هڅه یې وکړه چې ویې نیسي. دغه برید ته پر ډیموکراسۍ او هر هغه څه د برید په سترګه کتل کېږي چې امریکا یې دفاع او ملاتړ کوي. د امریکا په تاریخ کې لومړی ځل دی چې پر امریکایي سیسټم برید کېږي؛ ځکه ډېرو یې نه منله چې د خوښې نوماند یې په عمومي ټاکنو کې ماته خوړلې.

د بایډن اداري او د سنا مجلس نویو غړو پر کپیټل هېل یا کانګرس ماڼۍ د برید په اړه څېړنو لپاره ځانګړې کمیټه وټاکله. دغې کمیټې تر زرو زیاتو کسانو سره مرکې وکړې او تر یو میلیون زیات اسناد یې وڅېړل. د ټرامپ د نږدې کړۍ ځینو غړو له یادې کمیټې سره همکاري وکړه، خو ځینو یې له همکارۍ انکار وکړ. سټیو بنون (Steve Bannon) له شهادت ورکولو د انکار په سبب په بند محکوم شو، خو اوس له استناف وروسته ازاد دی. دغې کمیټې ولسمشر ټرمپ هم په دې نامه د شهادت ورکولو لپاره احضار کړ چې «د ټاکنو لغوه کولو او د واک سوله‌ایز لېږد د مخنیوي اصلي هسته ده او د امریکا لومړنی ولسمشر دی چې دا کار کوي». ټرمپ د دغې احضاریې په ځواب کې له شهادت ورکولو ډډه وکړه او له یادې کمیټې یې شکایت وکړ چې دا احضاریه بنده کړي.

له ټولو شهادتونو او اورېدنو وروسته دا څرګنده شوه چې ټرمپ او همکارانو یې د دغه روایت پر بنسټ چې په ټاکنو کې درغلي شوې، د دغو «لویو درواغو» اوازه خپره کړه چې د جو بایډن د ۲۰۲۰ کال ولسمشري نا قانوني ده. دغې کمیټې د یادو شهادتونو په حواله وویل چې دا ټولې هڅې په داسې حال کې وشوې چې د مخکیني ولسمشر ډېرو سلاکارانو او د سپینې ماڼۍ کارکوونکو ده او د ده نږدې همکارانو ته وویل چې ټاکنې په عادلانه ډول بایډن ګټلې.

ټرمپ او ملګرو يې د ټاکنو ګډوډولو لپاره څو اړخیزه دسیسه په لاره واچوله. د جنورۍ ٦مې په اړه لومړني شواهد ښيي چې ټرمپ او ملګرو يې څنګه د دغې دسیسې پلان جوړ کړ، خوره يې کړه او پیسې يې پرې ولګولې. په داسې حال کې چې د کانګرس پر ماڼۍ برید په ۲۰۲۱ کال کې شوی و، خو شواهد ښيي چې ټرمپ او ملګري يې له میاشتو راهیسې د ټاکنو ګډوډولو پر یوې ستراټیژۍ لګیا وو چې په لنډو نوټونو، یادښتونو او پاورپاینټ پریزېنټېشنونو کې ترتیب شوې وه. د ټاکنو پایلو ته د درناوي پرځای، ټرمپ د ټاکنو د پایلو ګډوډولو لپاره دسیسه جوړه کړه چې پر واک پاتې شي.

ټرمپ او د ده د امریکا بیا لویه کړئ (MAGA) شعار ملګرو د ټاکنو کمیسیون هغه چارواکي چې نه يې غوښتل قانون مات کړي، وګواښل او پلان يې درلود چې د دوی پرځای جعلي ټاکونکي وګوماري. کمیټې موندلې چې ټرمپ په وار وار د امریکا له عدلیې وزارت څخه غوښتي وو چې په ټاکنو کې د درغلۍ په نوم څېړنې پیل کړي او د مرستیال ولسمشر مایک پېنس پر وړاندې په عامه توګه کمپاین پر مخ یوسې چې د ټاکنو پایلې سبوتاژ کړي. ټرامپ ته څو څو ځله ویل شوي وو چې کړنې يې ناقانوني او ناشوني دي؛ خو ده دوام ورکړ.

په سوله‌ایز ډول د واک لېږد مخنیوي لپاره ټرمپ په وروستۍ هڅه کې یوه ډله خلک واشنګټن ته راوغوښتل. سره له دې چې ټرمپ پوهېده چې دا کسان پر کانګرس ماڼۍ د هجوم پلان لري، بیا يې هم د جنورۍ په ٦مه خپل ملاتړي سپینې ماڼۍ ته راوبلل. د کانګرس ماڼۍ پر لوري د تګ په وخت کې ډېری دغه کسان پر وسلو سمبال وو او ګومان يې کاوه چې ټرمپ به هم ورسره یوځای کیږي. د جنورۍ د ٦مې پاڅون له وینې تویولو او ګډوډۍ ډکه پېښه وه. دا له تاوتریخوالي ډک برید متعصبو د سپین پوستو د برترۍ غوښتونکو وکړ. سره له دې چې لوړپوړو سلاکارانو او د کانګرس غړو په وار وار غوښتنه ترې وکړه خو ولسمشر ټرمپ غلی ناست و، کتل يې او د مرستې رسونې لپاره يې غږ پورته نه کړ. په حقیقت کې، دغه شهادتونه ښيي چې د امریکا له اساسي قانون څخه د مایک پنس تر ملاتړ کولو وروسته، ټرمپ د پاڅونوالو د هغو نارو ملاتړ کاوه چې مرستیال ولسمشر، مایک پنس دې په دار شي.

د کانګرس څېړنې ښيي چې ټرمپ له هرې لارې چې کولی يې شول، قوانین يې تر پښو لاندې کول او له خپلو شاوخوا خلکو يې تمه درلوده چې د ۲۰۲۰ کال د ټاکنو پایلو ته له پام پرته پر واک د پاتې کېدو لپاره د ده پلانونه پلي کړي. په ټاکنو کې د درغلۍ په اړه له لویو ادعاوو سره سره، ټرمپ ونه شو کولی چې د خپلې ادعا لپاره کافي شواهد وړاندې کړي؛ خپلو سلاکارانو يې ورته ویلي وو چې کافي ثبوتونه نه لري.

ټاکل شوې کمیټې د امریکا عدلیې وزارت ته سپارښتنه وکړه چې د ټرمپ پر وړاندې جنايي څېړنې پیل کړي؛ که دا کار وشي نو د امریکا په تاریخ کې به لومړی ځل وي چې د یوه ولسمشر پر وړاندې داسې څېړنې کېږي. خو د امریکا لپاره تر دې هم د اندېښنې وړ خبره د امریکا د سیاسي نظام په زړه کې درزونه دي؛ د استازو

مجلس کې د مشر ټاکلو پر سر لانجو وښوده چې دا درزونه څومره ژور شوي! د امریکا سیاسي قطبي کېدل، دغه هېواد سره پاشي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## عدنان خان

**۲۰۲۳م کال، د جنورۍ ۱٦مه**

**۱۴۴۴هـ.ق، د جمادی الثاني ۲۳مه**